# متخصصین د میندوارۍ یا ماشوم ته د شیدو ورکولو پر مهال د چرسو په اړه څه وايي؟

دا انفوګرافیک له *MotherToBaby* څخه د میندوارۍ یا ماشوم ته د شیدو ورکولو پر مهال د چرسو د کارولو په اړه کلیدي معلومات لري.

## چرس څه شی دي؟




شاهدانه د ساتیوا چرسو د بوټي د وچو شویو پاڼو له ترکیب څخه جوړیږي. اصلي فعاله کیمیاوي ماده دلتا-9 تتراهایدروکانبینول (THC) دي، چې خلکو ته لوړ احساس ورکوي. د چرسو له اصلي اجزاوو څخه بله یې کانابیدیول (CBD) دي. چرس شاوخوا 400 بېلابېل کیمیاوي مواد لري. کیدای شي چرس د چمتو کولو پر مهال په نورو نشه یي توکو، آفت وژونکو یا زهري مرخیړیو باندې ککړ یا ملوث شي.




شاهدانه د ساتیوا چرسو د بوټي د وچو شویو پاڼو له ترکیب څخه جوړیږي. اصلي فعاله کیمیاوي ماده دلتا-9 تتراهایدروکانبینول (THC) دي، چې خلکو ته لوړ احساس ورکوي. د چرسو له اصلي اجزاوو څخه بله یې کانابیدیول (CBD) دي. چرس شاوخوا 400 بېلابېل کیمیاوي مواد لري. کیدای شي چرس د چمتو کولو پر مهال په نورو نشه یي توکو، آفت وژونکو یا زهري مرخیړیو باندې ککړ یا ملوث شي.

## د میندوارۍ پر مهال د چرسو په اړه په څه پوهېږئ؟

د میندوارۍ پر مهال د چرسو کارول د میندوارۍ د یو شمېر پیچلتیاوو لکه، له وخت وړاندې زیږون او لږ وزن لرونکي ماشوم د زیږېدو په څیر د خطرونو د کچې زیاتوالی له ځان سره لري. هغه نوي زیږېدلي ماشومان چې له وخت وړاندې یا کم وزنه پیدا کېږي، کیدای شي د ژده کړې برخه کې ستونزې او نور مغلولیتونه ولري. یو شمېر څېړنې د ماشوم د زیږېدو پر مهال د یو شمېر نیمګړتیاوو لکه ګاستروشیزیس د زیاتوالي وړاندوینه کوي.

## "ساتیوا چرس غیر قانوني نشه یي توکي دي چې ډېرې وخت د میندوارۍ پر مهال کارول کېږي." *- *ACOG*

مخ پر زیاتیدونکي شمېر ایالتونه د درملو او تفریحي موخو لپاره د چرسو کارول قانوني کوي او په پایله کې کیدای شي د هغې کارول د هغو ښځو په مینځ کې زیات شي چې میندواره دي.




**د 2024 د جنورۍ له 1 نېټې څخه. سرچینه: د نسایي ولادي د امریکایي متخصصینو کالج (ACOG). د کمېټې 722 شمېره نظر: د میندوارۍ او شیدو ورکولو پر مهال د چرسو کارول. نسایي او ولادي 130(4):p e205-e209، د 2017 اکتوبر*

## مور د شیدو ورکولو پر مهال د چرسو د کارولو په اړه په څه پوهېږو؟

THC د سینو شیدو ته لېږدول کېږي. په شیدو کې د THC د پاتې کېدو وخت له 6 ورځو څخه تر 6 اونیو پورې په محدوده کې پاتې کېږي. THCپه غوړو کې ذخیره کېږي او د وخت په تېرېدو سره په آرامۍ خپرېږي، یعنې په دې معنی کله چې مور د چرسو کارول پرېږدي بیا هم ماشوم له خطر سره مخ دی.

## په نور څه شي باندې باید زه پوه شم؟

طبي متخصصین هوکړه لري چې: که چېرې تاسو میندواره یاست یا شیدې ورکوئ، باید د چرسو له کارولو څخه ډډه وکړئ. د متحده ایالاتو د خوړو او درملو اداره (FDA) سپارښتنه کوي چې د میندوارۍ یا شیدو ورکولو پر مهال د چرسو یا د هغوی د هر عنصر له کارولو څخه ډډه وکړئ.

MotherToBaby د هېواد یوه مخکښه او د باور وړ اداره ده چې د میندوارۍ او شیدو ورکولو پر مهال د درملو او نورو خطرونو په اړه د شواهدو پر بنسټ معلومات وړاندې کوي. له انګلیسي او اسپانیایي پرته په نورو ژبو باندې د میندوارۍ پر مهال له خطرونو سره د مخ کېدو اړوندو سرچینو لپاره، په مهربانۍ سره MotherToBaby.org/additional-languages پټې ته مراجعه وکړئ.